# د پښتو پر ژوندون د پښتنو اديبانو افکار

د پښتو نهضت په صورت حقيقي سره په همدې عصر کي شروع سوی دئ، نو د دې په احياء کي بعضي ادباوو خپل افکار ښکاره کړي دي، چي پښتو به څه رنګ ترقي وکړي او څه رنګ به ادبي سي، په دې کي ډېر قيمتدار خيالات نشر سوي دي او هم هغو خيالاتو نور افکار هم راښورولي او مفکرين يې په ګفتار راوستي دي، د يو شي د کاميابۍ علامات هم دا دي، چي د هغه کار د عمل لپاره اول ښه ښه افکار پيدا سي او بيا وروسته ښه زمينه په لاس ورسي او بيا په ښه عمل او رفتار وسي، توفيق الهي هم دې ته وايي چي د يو نېک کار ښه وسايل برابر سي، او په مساعياتو د عاملانو باندي ښه نتايج مرتب سي، شاهانه نظريات چي قدرمنو پښتنو وليدل و هر طرف د دې دعوت لبيک ته حاضر سول، چا د ملازمت په صورت، چا د افتخار په وضع، چا د مبلغ په حيث، چا په جرايدو کي، چا په کورسونو کي، چا په دوايرو کي، چا په مجالسو کي خپل عمر او فکري خدمات وکړل. د پادشاه خوشبختي په دې کي ده، چي د هغه د افکارو د تعميل لپاره اهالي حاضر سي او د خلکو خوش نصيبي په دې کي ده، چي د خپلو زمامدارو قيمتدارو افکارو پيروي وکړي.

پښتنو خوشبختو اديبانو د شاهانه افکارو په نشر او اشاعه کي ښه ښه کوښښونه وکړل او ښه ښه افکار يې تر هغو کلياتو لاندي کړل، د دې افکارو خلاصه دا ده:

دا چي پښتو يو رسم الخط متحده پيدا کړي.

دا چي پښتو لغات رايج سي.

دا چي په وخت د ضرورت کي مفغنو لغاتو ته اعتبار ورکړه سي.

دا چي سبک د انشاء دي تعين سي.

دا چي حاوي ګرامرونه دي جوړ سي.

دا چي د افهام او د تفهيم لپاره دي د ملفوظ او د مکتوب صورت يو سي.

دا چي د نقوشو د سهولت او اختصار مراعات دي وسي.

دا اووه مقاصد د پښتنو اديبانو د نشرياتو خلاصه ده، په دې ټولو مطالبو کي اول مطلب د ژبې احيا ده او نور د هغې وسايل دي، په وسايلو کي اوله وسيله د توحيد د خط ده، دوهم د انشاء اصول دي او لپاره د نوآموزانو تاليف د کورس، د کتابونو او تجمع د لغاتو او قواعد د صرف و نحو دي.

خط:

محققان په دې کي اختلاف لري، چي د خط مرتبه اول ده او که د صرف و نحو، په قدماوو کي ابن حاجب او سيوطي خط مؤخر ګڼلی دئ او په متأخرينو کي مير سيد شريف جرجاني او نوفل افندي خط مقدم ګڼلی دئ، خو حقيقت دا شی دئ، چي حيثيتونه د اوليت او ثانويت بېل بېل دي او تضاد د دوی په اقوالو کي نه پاتېږي.

د ژبې ايجاد دلته مطلب نه دئ، نو ځکه خط ته موږ اهميت ورکوو، چي په ټولو مطالبو باندي حق د تقدم لري، ژبه د درې زرو درې نيم سوو کلو راپسې په وطن کي رايجه ده او موجوده خط هم د درې نيم سوو کلو راهيسي د کتابونو په اوراقو کي ليدل کېږي، يو مدقق سړی چي پر دې اوراقو نظر واچوي، نو خط په پښتو کي تدريجي ترقي کړېده، ديارلس حرفه يې په عربي حروفو باندي د پښتنو اديبانو درې نيم سوه کاله پخوا ور زيات کړي دي او خپل مطالب يې په پوره کړي دي. خو

صورت د تحریر کي اکثریه کاتبان مقصر دي، سبب دا شی دئ، چي محرر ته ټول اوازونه معلوم نه دي، نو په تحریر کي خطا سي.

د بعضي علاقو د پښتنو اوازونه په لغاتو کي د نورو علاقو پښتنو ته ښه معلوم نه دي، نو اکثریه خلک له قیاسه کار اخلي، معاصرو جرایدو د نویسنده ګانو د مغالطو امثال اصلاح پسندو ادیبانو نشر کړي دي، خو علت د هغه يې نه دئ ښوولی، علت د دې همدغه نقطه ده، چي موږ پورته ولیکله او دا خبره په سماع پوري تعلق لري، نه په قیاس پوري او داسي متبحرین تر اوسه کم پیدا سوي دي، چي د تمامو قبایلو د لهجو نه خبر وي او عمرونه يې پکښې تېر کړي وي، د دې احتیاج د رفع کولو لپاره قاموس کار ورکوي، خو هغه قاموس چي د تمامو قبایلو نماینده ګان د هغه په تصحیح کي شریک وي، اګر چي معاصرينو ادباوو قاموسونه لیکلي دي، خو تر اوسه د چا لاس ته نه دي رسېدلي، نو نویسنده ګان له خپله فکره کار اخلي، کور يې آباد چي پښتو لیکي، که په یو څو لغاتو کي خطا سي پروا نه لري.

اکثریه تحریر چي د چا ښه وي او ډېره ذخیره د لغاتو په حافظه کي لري او په محاوره باندي پوهېږي هم هغه ادیب بلل کېږي، لکه دې دوره کي دا اشعار وو، د دې اشکال رفع پخوانو ادیبانو تر یوه حده پوري کړېده، او یو رسم الخط يې پرې ایښی دئ، چي ټولو پښتنو قبول کړی دئ خو دا سر هم تر اوسه چا کشف نه کړ، چي په هغوی کي څه خصوصیت و...؟

هر کله چي قدماوو اتفاق کړی دئ، نو وهم د اختلاف نه دئ پاته سوی اساس د متحده خط ایښی دئ، د هغه تقدیر او محافظه کي همت په کار دئ، البته د یو ادیب نقیصه ده، چي له قیاسه کار اخلي، نو دوی دي قیاس ته اعتبار نه ورکوي، سماع ته دي اعتبار ورکړي. که خپله نه پوهېږي د بل سره دي مشوره وکړي. که فرصت و بیا به د نورو موادو تشریح وکو.

طلوع:

دا مقاله موږ د دې لپاره پښتنو ته وړاندي کړه، چي د پښتو د ژوندون په باب کي افکار ورته څرګند سي، د انیس د ښاغلي جریدې نظریات خو ډېر صائب او غوره دي، هغه ځای کي چي ټکي ایښو سوي دي ځیني جملې دي چي څېړنه او شرح غواړي او قابل د بحث دي، نو موږ ونه لیکلې. د پښتو مسلم رسم الخط او منل سوی اساس خو تېرو پښتنو موږ ته پرې ایښی دئ، په دغه کي څېړنه یا خو تحصیل د حاصل دئ اما اصلاح د رسم الخط هغه وخت کېږي، چي ژبه ښه ژوندۍ سي، یو وار به موږ ژبه ژوندۍ کوو وروسته به نو په اصلاح کي د رسم الخط او نورو بڼغېږو، ثبت العرض ثم انقش ...

رشتیا هم دا ده، پر هغه چي قدماوو اتفاق کړی دئ اوس موږ ته د اختلاف ځای نه دئ پاته.

طلوع افغان، ۱۳۱۷ کال، ۷ ګڼه، لومړي مخ.